**په افغانستان کی د مصالحی په اړه دپګواش د نړیوال سازمان د غوندی لندی ټکی**
**دوبی د ۲۰۱۳ میلادی کال د جنوری ۱۵-۱۸**

د ۲۰۱۳ میلادی کال د جنوری په ۱۵-۱۸ نیټی کی د مخکنی غوندی په لړ کی چی د ۲۰۱۲ میلادی کال ددسامبر میاشت په ۲۱-۲۳ نیټو کی جوړ شوی و په دوبی ښار کی د افغانستان د ملی روغی جوړی په اړه یوه غونده جوړه شوه . دلته دغوندی څو مهمی ټکی وړاندی کیږی:
۱ . هیڅ یو ګدون کوونکی نشو کولای چی دکوم دولتی رسمی موقف او یا هم د کوم ګوند او یا د نا راضیانو لخوا څخه استاذیتوب وکړی . باید ووایو چی دا هڅی دی لپاره صورت وموند چی یو دلییز ګدون شتون ولری او د روغی جوړی لپاره چی کوم غوره لرلیدونه موجودی دی تر لاسه شی .
۲ . هر یو ګدون کوونکی دا وویل چی د سولی او ملی پخلاینی پروسه باید د افغانانو تر لارښودنی لاندی مخ ته بیول شی . د پګواش د سازمان دغه ابتکار ددی لپاره چی د کومی رسمی برنامی بدیل ووسی نه دی دایره شوی .
۳ . د پګواش په غونده کی تول ګدون کوونکی دخپل شخصی ظرفیتونو پر بنسټ خبری وکړی او یا کوی او ددوی لرلیدونه په هیڅ دول رسنیو ته ددوی د اجازی نه پرته نه انتقالیږی .
۴ . تول غیر افغانی ګدون کوونکی حتی د هغو کسانو په شمول چی رسمی استازیتوب هم په غاړه درلود د خپل شخصی توانمندیو پر بنسټ ګدون کړی وو .

**کوم عمده ټکی چی د دوبی په ناسته کی هغوی باندی بحث وشو**
**موثرسولی او روغی جوړی : د خپل منځی جګړو څخه مخنیوی**

۱ . په کلی ټوګه دا توافق موجود وو چی د افغانستان خلک سوله د یو یوموټی افغانستان لپاره غواړی . وروسته له تقریباً ۳۰ کال جګړو څخه سوله او اوساینی ددی هیواد دوګړو یو مطلق ضرورت دی . د افغانستان څخه د بهرنی قواوو د وتلو نه وروسته د یو خپل منځی جګړی ویری باید په ټول مخنیوی کوونکی تدابیرو سره دفع شی .
۲ . ددی لپاره چی افغانستان کی سوله راوستل شی دا ضرور دی چی د یو اوربند لپاره چی د خبرو اترو لپاره لازمی آزادی برابر کړی بند وبسټ وشی او په عین حال کی دا باید سوچ وشی چی څرنګه یو سیاسی پروسه را مینځته شی تر سو چی یو موثر روغه جوړه تمثیل کړی .

۳ . دیری موضوعات موجود دی چی کولای شی ددی روغی جوړی یو برخه ووسی خو ددوی د عمده مواردو څخه یو هم د یو ګتور سیاسی مشارکت څخه تعریف دی . ځینی او یا زیاد تره برخی احتمال لری چی د اساسی قانون د تعدیل وړاندیز وکړی دا وړاندیز کولای شی چی د یو موثر لاری د موندلو لپاره په آزاده توګه بحث وشی .
۴ . سیاسی مشارکت باید د آزاد انتخابات له لاری رامینځته شی او دیر موافق تکی په دی اړه موجود وو . انتخابات تر دیره کچه تر خوشبینی لاندی وو څرنګه چی د اسلام له نقطی نظره هم پری بحث وشو . د انتخاباتو مفهوم په یو انتخاباتی نظام کی کولای شی او باید هم چی د خبرو اترو یو موضوع ووسی .

**افغانستان د یو اسلامی ټولنی په حیث**

۵ . افغانستان یو اسلامی هیواد دی او وی به . د افغانانو د بیان د آزادی حق ، عدالت او په خاصه توګه تولنیز عدالت ( همهغه توګه چی یو حتمی برخه په یو اسلامی تولنه کی ګڼل کیږی بشری حقونو ته درناوی هم یو لازمی برخه دی) ضمناً مذهبی آزادی هم د یو اسلامی تولنی یوه برخه دی څرنګه چی قرآن کریم ددوهمی سوری په ۲۵۶ آیت کی فرمایی:( لا اکراه فی الدین . . الآیه)

**دسولې او امنیت دآماده ګی لپاره ملاتړ**

۶ . دا موضوع وڅیړل شول چې د اوسنی کړکیچ ( دا دطالبانو لخوا بیان شول ) خپله ریښی په افغانستان کی د بهرنی قواوو د شتون له وجهی څخه لری . د بهرنی قوتونو وتل به بل ډول شرایط را مینځته کړی . خارجی قواو د وتلو په درشل کی باید په خپل وند سره په اوربند کی ونده واخلی .

۷ . د بندیانو خوشی کول او بخنی د اعتماد سازی لپاره دیر بنسټیز اقدامات دی چی کولای شی د سولی پروسی ته په افغانستان کی وده ورکړی . آمریکا د ګوانتانامو څخه بندیانو د خوشی کولو وعده ورکړی وو او دا د تاسف وړ دی چی ولی دوی خوشی نشول .

۸ . ټولی هڅی باید په فوری او عاجله ټوګه پیل شی تر سو چی د ملکی خلکو ته د صدم ی د واردولو څخه مخکی د هغه مخنیوی وشی . دا یو اصل دی چی د هر چا لخوا تر تاړید لاند یدی خو تر اوسه عملی شوی نه دی او یا هم په کافی ټوګه په واقعی بڼی تر سره شوی نه دی . ټول ذیدخل غاړی باید په دیر احتیاط سره د ملکی تلفاتو د مخنیوی د پاره کوښښ وکړی . ( په خاصه ټوګه د طالبانو د مشر د روژی د اختر په مناسبت پیغام بندی دقت وشی )

۹ . دا موضوع تر پوښتنی لاندی راغی چی د هغه اوربند په صورت کی چی د طالبانو تر حمایت لاندی هم ووسی آیا دا ممکن دی چی د ۱۰۰٪ اوربند په حالت کی د ځینو نا خوالی د څرګند کیدلو څخه ضمان وشی؟ یو ډیر محتاطانه ځواب موجود وو چی ځینی واړه ډلی تپلی به همیشه ځان وښیی او همدا رنګه خلکو هم باید د جلا غوښتونکی ډلو د څرګندیدو لپاره آماده ووسی .

۱۰ . د اوربند دپاره د آماده ګی په درشل کی دا به غوره وی چی د تولو غاړو یو پر ضد باندی تبلیغات کم شی او کوښښ وشی چی په افغانستان کی د نورو سیاسی مواقعو لپاره سو چ وشی لکه ددهشت افګن ، لاس پوسی او یا اشغالګر کلمی .

**د القاعده لپاره**

۱۱ . یو پراخه اجماع موجود وو چی په یو سوله ییز افغانستان کی په مطلقه ټوګه بهرنیو جګړه مارانو ته او یا هم هغو کسانو ته چی د افغانستان د خاوری څخه وغواړی چی نورو هیوادونو باندی حملی وکی هیڅ ځای وجود نلری . هیڅ ډول وندی او نقش به د القاعدی دپاره په افغانستان کی باید موجود ونه ووسی .

۱۲ . دا موضوع جوته شوه چی ټول بهرنی خارجی اتباع چی د پښتنو په سرحدی سیمو کی ژوند کوی په حتمی ټوګه جګړه ماران نه دی بلکی ددوی ځینی مهاجر ین دی او داسی خلک باید حمایت وشی .

**د خبرو اترو لپاره لازمی ګامونه**

۱۳ . د یو سوله ییز افغانستان د مستقبل لپاره اود خبرو اترو د تسهیل په موخه د تور لیست مسړله باید په نژدی وخت کی حل شی . په تور لیست کی د مندرجو کسانو د محدودیتونو د رفع کولو لپاره چی د سولی په رسمی او یا غیر رسمی غونډو کی ګډون کوی باید د لژو بیرو کراسی او موانعو سره تحرک رامینځته شی .

۱۴. دد طالبانو سره د خبرو اترو د تسهیل په موخه په دوحه کی د دفتر پرانیست یو اوچت ګام دی .

۱۵ . خبری اتری او مذاکری باید جامع ووسی . هیڅ یو سیاسی ډلی او یا جریان سوچ ونکی چی له هغی څخه بهرپاتی شوی دی . د هر یو ډلی باید ګټی او علاقه مندی درناوی وشی . دا مسړله باید په نظر کی ووسی چی اساسی موخه یو متحد او سوله ییز افغانستان دی .

**اقتصادی بیا رغونی**

۱۶ . هغو هیوادونه چی په افغانستان کی په لښکر ایستلو کی دخیل دی باید د نوی افغانستان لپاره د کومکونو په اړه کی سوچ وکی چی یوه ټولنی ته یو پایداری اقتصاد ته وده ورکړی . د متعددو نظامی فعالیتونو ( د قراردادیانو په ګډون) یو جنګی اقتصاد رامینځته کړی دی ددا ډول اقتصاد سوق ورکول د یوی نورمال اقتصاد خواته په یو سوله ییز افغانستان کی د هغو هیوادنو همکاریو ته دیر ضرورت لری چی په وروستی کلونو کی خپل قواوی دلته ساتلی دی . افغانستان اوس له هر وخت څخه زیات اقتصادی کومکونو ته اړ دی .

**ګاوندی هیوادونه**

۱۷ . یو سوله ییز افغانستان نه یواځی د افغانانو د علاقه مندی وړ دی بلکه همدا رنګه د هغو هیوادنو دتر علا قه مندی به وی چی خپل قوتونه د هغی څخه یی ویسی . او همدا رنګه دا هیواد به د استثنا څخه پرته د تولو ګاوندی هیوادونو د علاقی وړ به وی .

۱۸ . د پاکستان هیواد په خاصه ټوګه د یو سوله ییز افغانستان څخه به ګټه پورته کړی. پاکستان باید د بیلابیلو ډلو تر مینځ د خبرو اترو فرصتونوته په غنیمت سترګه وګوری. پاکستان کولای شی د افغانانو لپآره د سولی یوه ښه زمینه ووسی. د امریکی متحده ایالتونه باید د پاکستان دغه وندی تسهیل کړی او هر هغه وخت چی د اوسنی کړکیچن حالت د پاکستان ستاینه کوی باید د خبرو اترو هغو احتمالی ابتکار ته چی کولای شی په پاکستان کی جوړه شی هم ارزښت ورکړی.